مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

مصطفی پسرلی ۲۰۱۹/۱۲/۱۶

غــزل

بیا به نغمې پخلا کوم، ترنګ د رباب راوړمه
چې شي معطره دا فضا ګل د ګلاب راوړمه

د آدم خان او درخانی کېسو ته ساه پوکوم
دې ویر وهلو مابنامونو ته شباب راوړمه

تندې وژلو ګلابونو ته ژوندون بخښمه
اوبه په لپه کې د مینې له دریاب راوړمه

سکوت ځپلو محلونو ته نغمې وروړم او
تیاره، تیاره ماحول ته وړانګې د آفتاب راوړمه

د زلیخا د مینې شور مې په غوږو کې راشي
چې مې نظر ته د یوسف د مخ کتاب راوړمه

ستا د زړه ستنې پسرلیه زه باسلی نشم
ستا د درمان لپاره زه یو نوی باب راوړمه

مصطفی پسرلی
16/12/2019

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ